هفته واره رساله

د امیرِ اهلِسُنَّت تقریباً 37 کاله مخکښینی بیان

# عجیبه ازمېښت

- صبر غم پېښېدو سره سمدستي پکار وي
- د مال حاصلولو د پاره دین په داؤ
- د اِنسان دري مالونه
- د ځوي په نرمی سره بوهه کولو باندي راګیرېدنه

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# عجيبه ازميبنت (1)

دُعائے عطّار: اے کريم ربه! څوک چې دا رساله " عجيبه ازميبنت " ولولي يا واوري هغه د اِحسان هيرولو او د نا شکرۍ نه محفوظ اوساتې او هغه سره د مور او پلار او خاندانه بے حسابه وبخښې - اٰمِيْنْ بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَوْلَى النَّاسِ بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً- يعني د قيامت په ورځ به په خلقو کښې د ټولو نه زيات نزدې ما ته هغه کَس وي، کوم چې د ټولو نه زيات په ما باندې دُرُود شريف لولي- (ترمذي، ص144، حديث:484)

مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات په ارام کښې هغه وي، څوک چې د حُضُور (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) سره وي او د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قرب نصيب کيدو ذريعه زيات دُرُود شريف وئيل دي- د دې نه معلومه شوه چې دُرُود شريف بهترينه نيکي ده چې

[1] ... دا بيان امير اهل سنت، باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي ضيائي دامت بَرَكَاتُهُمُ العاليه په 15 ذوالقعدة الحرام کال 1408ھ بمطابق 30 جون کال 1988 د دعوتِ اِسلامي په وړومبي مدني مرکز جامع مسجد گلزارِ حبيب کراچۍ کښې د عاشقانِ رسول په هفته واره د سُنَّتو نه ډکه اجتماع کښې کړے وو- د المدينة العلميه شعبې "بياناتِ امير اهل سُنَّت" دې له ترتيب ورکړے دے-

پهٔ ټولو نیکو باندې جَنَّت نصیب کیږي او پهٔ دې سره د بزمِ جَنَّت نازوَلے (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نصیب کیږي- (مراٰۃُ المَناجیح، 100/2)

حشر میں کیا کیا مزے وارفتگی کے لُوں رَضا　　لوٹ جاؤں پا کے وہ دامانِ عالی ہاتھ میں
(حدائقِ بخشش، ص104)

## عجیبه ازمیښت

د حضرت سَیِّدُنا ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: **اللّٰه** پاک د بني اِسرائیلو پهٔ دریو کسانو باندې ازمیښت اوکړو، پهٔ هغوئي کښې یو پمن(په چا چې جزام بیماري وي دیته جزامي هم وئیلے شي)، دویم ګنجے او دریم ړوند وو-

نو **اللّٰه** پاک یوه فرښته پهٔ اِنساني شکل کښې د دې دریو واړو خوا له راولیږله، هٔغه فرښته وړومبے د پمن خوا له لاړه او وه یـې وئیل چې ستا د ټولو نه زیات کوم څیز خوښ دے؟ هغه وئیل: زما ښکلے او زړهٔ راښکونکے رنګ او د وجود بهترینه څرمن پکار ده ځکه چې د پمن والي پهٔ وجه خلق زما نه نفرت کوي- فرښتے د هٔغه پمن پهٔ وجود باندې لاس راښکلو نو د هغهٔ بیماري یو دم ختمه شوه او هغهٔ ته ډیره زړهٔ راښکونکې او ښکلې څرمن ورکړے شوه- بیا فرښتے پوښتنه اوکړه: ستا کوم قِسم مال ډیر خوښ دے؟ هغهٔ د اوښ یا د غوا وئیل-[1] هغه ته د لسو میاشتو یوه بلاربه اوښه ورکړے شوه او فرښتے هغهٔ ته دُعا اوکړه چې **اللّٰه** پاک دې ستا پهٔ مال کښې برکت واچوي-

د دې نه پس فرښته د ګنجي خوا له راغله او د هغهٔ نه یـې پوښتنه اوکړه: ستا کوم څیز د ټولو نه زیات خوښ دے؟ هغه وئیل: ښکلې ویښتهٔ زما د ټولو نه زیات خوښ دي او چې دا ګنجے

[1] د راوي شک دے، خو پهٔ پمن او ګنجي کښې یو اوښ ووئیلو، بَل غوا-

توب زما نه لرې شي د کوم پۀ وجه چې خلق زما نه نفرت کوي- فرښتے چې د هغۀ پۀ سر باندې لاس راښکلو نو د هغۀ ګنجے توب فوراً ختم شو او هغۀ ته ښکلي ویښتۀ ورکړے شول- بیا فرښتے د هغۀ نه پوښتنه اوکړه: ستا کوم قِسمه مال ډیر خوښ دے؟ هغۀ ووئیل: غواګانې- هم هُغه وخت هغۀ ته یوه بلاربه غوا ورکړے شوه او فرښتے هغۀ ته ووئیل: **اللّٰه** پاک دې تا ته پۀ دې کښې برکت درعطا کړي-

بیا هُغه فرښته پۀ اِنساني شکل کښې د ړوند خوا له راغله او د هغۀ نه یـې پوښتنه اوکړه ستا د ټولو نه زیات کوم یو څیز خوښ دے؟ هغۀ ووئیل: **اللّٰه** پاک دې ما ته بینائي راعطا کړي د پاره د دې چې زۀ خلق ووینم- فرښتے د هغۀ پۀ مخ باندې لاس راښکلو نو **اللّٰه** پاک فوراً هغۀ ته بینائي ورعطا کړه- بیا فرښتے د هغۀ نه پوښتنه اوکړه: ستا کوم قِسم مال خوښ دے؟ هغۀ ووئیل: چیلۍ- هغۀ ته یوه بلاربه چیلۍ ورکړے شوه او فرښتے هغۀ ته هم د برکت دُعا اوکړه او لاړه-

د پمن، ګنجي او د ړوند دریو واړو سره اوښانو، غواګانو او چیلو ښۀ ډیر بچي راوړل او نسلونه یـې زیاتیدل، دري واړه ښۀ مالداره شول- د پمن پۀ اوښانو یوه دره ډکه شوه، د ګنجي غواګانو هم یوه دره ډکه کړه، د ړوند چیلو هم یوه دره ډکه کړه-

بیا هم هُغه فرښتے د پمن شکل اِختیار کړو او د اِمتحان پۀ توګه د پمن والي نه د روغ شوي ګَس خوا له راغله او هغۀ ته یـې ووئیل: زۀ یو مسکین مسافر یم، زما سره د سفر جاري ساتلو وسیلې ختمې شوې دي، زما د پاره نن د رسیدو هیڅ صورت پۀ نظر نۀ راځي خو دا چې د **اللّٰه** پاک پۀ مدد سره او بیا ستا پۀ مدد سره، زۀ ستا نه د هغۀ پۀ نوم باندې کوم چې تا ته ښکلے رنګ او وجود، ښکلې او ښائسته څرمن او ډیر مال عطا کړے دے د یو اوښ سوال کووم چې زۀ پرې خپل سفر جاري وساتلے شم- هغه ووئیل: زما پۀ ذمه باندې ډیر حقونه دي- پۀ دې باندې فرښتے ووئیل: زۀ تا پیژنم، آیا تۀ هغه نۀ یـې کوم چې به خلقو سپک ګڼلو او کرکه به یـې ترې کوله؟ آیا

تۀ د ټکي ټکي محتاجه نۀ وې؟ بيا **الله** پاک تا ته دا حُسن او ښائست او مال درعطا کړو- پمن ووئيل: داسې نۀ ده زۀ خو د پلار نيکه نه هم داسې يم- دا يې چې واوريدل نو فرښتے ووئيل: که تۀ دروغ وائې نو **الله** پاک دې تا بيا هم هغه شان کړي څنګه چې تۀ مخکښې وې-

د دې نه پس فرښته د ګنجي خوا له د هغۀ پۀ شکل کښې ګنجي ورغله او د هغۀ نه يې هم داسې سوال اوکړو څنګه چې يې د پمن نه کړے وو- هغه ګنجي هم هغه شان جواب ورکړو څنګه چې د پمن ورکړے وو- پۀ دې باندې فرښتے هم هغه خبره اوکړه کومه چې يې پمن ته کړې وه، يعني که تۀ دروغ وائې نو **الله** پاک دې تا بيا هم هغه شان کړي لکه څنګه چې تۀ مخکښې وې-

بيا فرښته د ړوند خوا له هم د ړوند پۀ شکل کښې ورغله او وه يې وئيل: زۀ ړوند محتاجه مسافر يم، زما سره د سفر جاري ساتلو د پاره وسيلې ختمې شوې دي، نن ما ته د رسيدو څۀ صورت پۀ نظر نۀ راځي خو دا چې د **الله** پاک پۀ مدد سره او بيا ستا پۀ مدد سره، زۀ د هغه **الله** پاک پۀ وسيله باندې کوم چې تا ته بينائي واپس درعطا کړه، ستا نه د چيلۍ سوال کووم د کومې پۀ ذريعه چې زۀ خپل منزل ته ورسيږم- ړوند جواب ورکړو: بے شکه زۀ نابينا ووم، **الله** پاک پۀ خپل فضل او کرم سره ما ته بينائي راعطا کړه لهذا تۀ چې څومره چيلۍ غواړې بوېې ځه او چې څومره راته پريښودل غواړې پريږده يې- پۀ خُدائے مې دې قَسم وي! تۀ چې د الله پۀ نوم باندې څۀ هم اخلې زۀ يې بد نۀ ګڼم- فرښتے ووئيل: تۀ دې خپل مال د ځان سره و

ساته ،خو خبره دا ده چې د **الله** پاک د طرف نه ستاسو د دريو واړو امتحان واخستے شو، **الله** پاک ستا نه خوشحاله او ستا د دواړو ملګرو د پمن او د ګنجي نه ناراضه شو-

(بخاری، 2/463، حديث: 3464 ملتقطاً)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې حديث مبارک نه معلومه شوه چې اِحسان هيرول او نا شُکري ډير لوئي جُرم دے او څوک چې اِحسان هيروي او نا شُکري کوي هغه په دُنيا کښې هم ذليله او خوار وي او په اخرت او محشر کښې هم ذلت او رسوائي د هغه نصيب کيږي- لږ غور اوکړئ چې ګنجے او پمن کوم چې مخکښې په تکليف کښې وو کله چې هغوئي ته راحت ميلاؤ شو نو هغوئي الله پاک هير کړو، د هغهٔ په لاره کښې يې د خپل مال ورکولو نه اِنکار اوکړو او د دروغو نه يې هم کار واخستو نو اخر ذليله او خوار شول- د بده قسمته نن سبا هم که چا ته د څهٔ نيک کار د پاره سوال اوکړې نو خلق قِسما قِسم دروغ وائي، مثلاً زما وَس نهٔ کيږي، زما فلانکي او فلانکي مسئلې دي، داسې ډير دروغ وائي او د لم ليټ نه کار اخلي- دا سوچ ولې نهٔ کوي چې الله پاک ما له مال راکړے دے نو د هغه په لاره کښې خپل مال خرچ کړي او ډير ثواب وګټي- آؤ! که ورکونکے د سوال کوونکي نه مطمئين نهٔ وي او دا ګڼي چې هغه به دوکه اوکړي يا د هغهٔ مال به په صحيح ځائے کښې نهٔ لګي نو بيا اګر که هغهٔ له نهٔ ورکوي خو په داسې حالت کښې هم د دروغو نه کار اخستل جُرم دے لهذا که څوک ورکول نهٔ غواړي نو د دروغو وئيلو نه بغير دې منع کړي- بهر حال نن زمونږ په معاشره کښې نا شُکري خوره ده- نا شُکري به عامه ولې نهٔ وي چې شيطان لعين کله د الله پاک د دربار نه رټلے راويستے شو نو هغهٔ د الله پاک په دربار کښې عرض کړے وو: ” زهٔ به ستا بندګان د مخې شا او ښي ګڅ [هر طرف ] نه دوکه کووم ته به په هغوئي کښې اکثر شُکر ګزار نهٔ مومې“ لکه څنګه چې الله پاک په قرآنِ کريم کښې د شيطان د دې قول خبر ورکوي او اِرشاد فرمائي:

ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَ مِنْ خَلْفِهِمْ وَ عَنْ اَيْمَانِهِمْ وَ عَنْ شَمَآىِٕلِهِمْؕ
وَ لَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ﴿۱۷﴾

(پ8، سورۂ الاعراف: 17)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بیا به زهٔ ضرور د هغوئي د مخې او د هغوئي د شا او د هغوئي د ښي طرف او د هغوئي د ګڅ طرف نه هغوئي له راځم، او تهٔ به د هغوئي نه اکثره شُکر ګزار نهٔ مومې۔

## شُکر ګزاره اِنسانان کم دي

دغه شان **الله** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې اِرشاد فرمائیلے دے: زما لږ بندګان به شُکر ګزاره وي، لکه څنګه چې پهٔ 22 سیپاره، د سورهٔ سبا پهٔ آیت نمبر 13 کښې د رَبُّ الْعٰلَمِین اِرشاد مبارک دے: ﴿وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زما پهٔ بندګانو کښې شُکر کوونکي کم دي۔

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** واقعي چې پهٔ حقیقي معنو کښې شُکر او صبر کوونکي بندګان ډیر کم دي۔ البته پهٔ خُله باندې دعوې کوونکي ډیر دي، پهٔ دې باندې ځان داسې پوهه کړئ چې لکه څنګه دلته ډیر خلق د نورو خلقو پهٔ مخکښې خپل مصیبتونه بیانوي او قِسما قِسم تکلیفونه ورته بیانوي مثلاً " صاحبه! قرضه راباندې ډیره زیاته شوې ده یا فلانکې بیماري ده او ډاکټر د آپریشن وئیلې دي وغیره وغیره" بیا چې کله داسې خلقو له تسلي ورکړے کیږي او د صبر کولو ورته وئیلے کیږي نو جواب میلاؤیږي: زهٔ خو صبر کووم۔ اوس که چرته څوک د خپل براس ویستو نه پس ووائي چې " زهٔ خو هم صبر کووم" نو آیا دې ته به صبر وئیل صحیح وي؟۔ دغه شان چې کله د چا نه جیب ووهلے شي نو بغیر د ضرورت نه خلقو ته وائي او جیب وهونکي ته ښې ډیرې کنځلې کوي او بیا وائي چې " زهٔ صبر کووم" نو دا صبر نهٔ دے بیوقوفي ده او دا صبر ګڼل د هغهٔ خوش فهمي ده۔

### صبر پهٔ اوّله صدمه باندې وي

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: صبر پهٔ اوّله صدمه باندې وي [یعنې صبر د غم پهٔ شروع کښې پکار دے]۔ (بخاری، 441/1، حدیث:1302) وروستو خو پخپله صبر راځي - وګورئ

چې کله چا کره مړے وشي نو کور والا یې پۀ چغو چغو ژاړي، مَعَاذَالله! بعضې خلق کړیکې وهي، او مخ او سر وهي، ویښتۀ شوکوي او جامې شلوي دا حرام دي- (فتاوی ہندیہ،1/167 مفہوماً) بیا د وخت تیریدو سره سره پۀ ورو ورو نارمل شي-

زمونږ پۀ گجراتئ ژبه کښې متل دے: " دُکھ نُو اوسڑ دھاڑا " یعنې د غم مرهم ورځې دي یعنې څنګه چې ورو ورو ورځې تیریږي غم کمیږي او زخم ښۀ کیږي-

داسې پۀ اواز سره ژړل هم منع دي البته که په اوچت اواز سره نۀ نو پۀ ژړا کښې څه منع نشته-

(الجوہرۃ النیرۃ، ص139)

یاد ساتئ چې د صبر ثواب به هله میلاؤیږي چې کله اِنسان پۀ اوّله صدمه باندې صبر اوکړي او د څۀ بے صبرئ والا جُمله د خُلې نه وه نۀ باسي لهذا د مړي وغیره د غم پۀ موقع باندې چې اِنسان خپل ځان پۀ قابو کښې وساتي او د بے صبرئ نه کار وانخلي، نو اوس دا صبر دے هسې هم د ورځو د تیریدو سره صبر پخپله راځي- حقیقي صبر دا دے چې واقعي ستاسو طبیعت خراب وي او څوک پوښتنه اوکړي نو تاسو ووایئ " د الله پاک شُکر دے-" د دې الفاظو سره سره چې د زړۀ حالت هم دغه وي او د بے صبرئ څۀ جُمله د خُلې نه وه نۀ ووځي-

## د صبر فضیلت

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! صبر د ډیر لوئي اَجر او د ثواب سبب دے- د قیامت پۀ ورځ باندې به صبر کوونکي راجمع کولے شي نو یوه ډیره لویه ډله به راجمع شي او بیا به **الله** پاک هغوئي بے حسابه بے کتابه جَنَّت ته داخِل کړي- (الزهد لابن مبارک، ص226، حدیث:643 ملتقطاً)

## صبر کوونکي او شُکر کوونکي ډېر کم دي

افسوس چې نن سبا صبر کوونکي او شُکر کوونکي دي چرته؟ که وي نو په مزارونو کښې به وي- اوس حالات دا دي چې لږ شان ازغے یې په لاس ښپه کښې لاړ شي یا یې په سر باندې درد راشي نو خلقو اسمان په سر راخستے وي- زمونږ د اسلافو عمل داسې نۀ وو هغوئي خو به په مصیبتونو باندې صبر کولو او نورو ته به یې هم د صبر تلقین کولو- په دې باره کښې د **الله** پاک د یوې نیکې بندې حضرت سَیِّدُنا رابعه بصریه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْها ته پیښه شوي یوه واقعه واورئ او د ځان د پاره د صبر او شُکر خزانه راجمع کړئ یو ځل حضرت رابعه بصریه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْها یو کَس په سر باندې په پټۍ تړلو ولیدو او د هغې د سبب پوښتنه یې ترې اوکړه نو هغۀ عرض اوکړو: په سر مې ډېر درد دے ځکه مې پټۍ تړلې ده- هغې هغۀ ته وفرمائیل: تا د صحت منډۍ د شُکرانې پټۍ کله هم نۀ ده تړلې او یوه ورځ دې په سر باندې درد څۀ راغلو چې تا د شکایت پټۍ وتړله -

(تذکرة الاولیاء، 72/1 ملخصاً)

## بزرګانِ دین به مصیبت پټولو

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د بزرګانو طریقه وه چې که هغوئي ته به څۀ تکلیف رسیدلو نو بغیر د ضرورت نه به یې چا ته نۀ ښکاره کولو، د دې پورې چې د ځینو بزرګانو په حالاتو کښې دا هم لیکلے شوي دي چې کله به هغوئي ناروغه کیدل نو خوک به یې د ځان خوا ته د ملاقات د پاره نۀ رابلل د پاره د دې چې خلقو ته د هغوئي د بیمارۍ پته وه نۀ لګي- (احیاء العلوم، 362/4 ماخوذاً)

## اِنسان ډېر ناشُکره دے

بهر حال دا د تصوف نکته وه کومه چې عرض کړے شوه، تصوف د دِین نه بهر نۀ دے، کومه خبره چې د دِین نه بهر وي هغه ټیک نۀ وي، جاهلان وائي چې مونږ خو فقیران یو شریعت بیل څیز دے او طریقت بیل څیز دے- دا بیوقوفي کیدے شي داسې هیڅ طریقت نشته کوم چې د

شريعت نه جُدا وي دا جُدا کيدے نشي ځوک چې دې ته جُدا جُدا وائي هغوئي فراډيان دي- چا ته چې ګورې هغوئي دا وائي: جي فقير داسې اوکړه فقير داسې ووئيل، وليکل وغيره حالانکې فقير کيدل ډيره لويه خبره ده زما او ستاسو په شان فقيران خو په هره کوڅه کښې ګرځي د حقيقي فقير تعريف ډير لوئي دے، په فقير کښې 4 حروف دي: ف، ق، ي او ر په دې کښې د " ف " نه مُراد فاقه يعنې وږې اوسيدل دي، تاسو خو 4 ځله ښه په مړه خِيټه خوراک کوئ، تاسو څنګه فقيران شوئ؟ تاسو کله د ف حق هم نۀ دے ادا کړے ، روژه تاسو يوه نشي نيولے، تاسو فقيران او صوفيان د کله نه جوړ شوئ؟ او فقير په خپله خُله باندې خپل ځان ته فقير نۀ وائي هغه خو خلق هغۀ ته د هغۀ د کارونو او کردار په وجه فقير وائي، لوړه کيدے شي چې تاسو په کورنۍ کښې هم چا نۀ وي تيره کړې او تاسو فقير شوئ بيا د " ق " نه مُراد قناعت دے، يعنې څومره چې ميلاؤ شي په هغې باندې صبر کول مثلاً چې چا ته ووئيلے شي چې ستا تنخوا څومره ده؟ نو جواب ميلاؤيږي جي 1500 روپۍ، کار پرې نۀ کيږي، دُعا اوکړئ چې 2000 زره شي، چې 2000 ميلاؤ شي نو وائي چې 2500 ميلاؤ شي- شيخ سعدي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ډيره ښکلې خبره فرمائيلې ده: " تونگری بہ دل اَست نہ بہ مال " يعنې مالداري په زړۀ پورې وي په مال پورې نۀ- مالداره خو نمرود، فرعون، قارون او ابو جهل هم وو، امام محمد غزالي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د بزرګانو قول نقل کوي: دولت پيسې درهم او دينار مار او لړمانان دي دې له به هغه کَس لاس وروړي کوم له چې د مار او د لړم نه د بچ کيدو دَم ورځي، چا عرض اوکړو: د دې دَم څۀ دے؟ نو وه يې فرمائيل: د دې دَم دا دے چې په حلاله طريقه يې حاصل کړې او په موقع او محل باندې دا ولګوي- (مكاشفة القلوب، ص 143 ماخوذا)

مخکښينو خلقو به په حلاله طريقه باندې مال حاصلولو، اوس ځوک داسې کوي دا مونږ ته معلومه نۀ ده- نن سبا ډير مالداره هغه خلق دي کوم چې غلاګاني کوي د رشوت او سود لين دين او معلومه نۀ ده چې څۀ څۀ کوي، الله پاک دې زمونږ په خراب حالت باندې رحم اوکړي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ستاسو به دا خواهش وي چې د شپې شپې مې د 5 لاکهه روپو بانډ راوځي او یا به پۀ دې چکر کښې یې چې پۀ لږ وخت کښې مالداره شم- بهر حال د دې دَم د چا سره هم نشته ځکه چې خومره د مارانو لړمانو ذخیره یعنې مال او دولت کم وي هُغه همره ښه ده- دغه شان مخکښې حضرت شیخ سعدي رَحْمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: بزرگی به عقل است نه به سال، یعنې بزرګي پۀ عقل ده پۀ عمر نۀ ده یعنې داسې نۀ ده چې د چا عمر ډیر دے هغۀ بزرګ دے ویښتۀ یې سپین شول ملا یې ټیټه شوه او کنځلې هم کوي بیا هم بزرګ دے نو داسې نۀ ده-

پۀ دې زمانه کښې شُکر ګزار اِنسان لټول ډیر ګران دي، لکه څنګه چې **اللّٰه** پاک پۀ قرآنِ پاک کښې د غازیانو د آسونو د قَسم کولو نه پس د اِنسان نا شُکره کیدل بیان کړي دي، اِرشاد دے:

وَ الْعٰدِیٰتِ ضَبْحًاۙ(۱) فَالْمُوْرِیٰتِ قَدْحًاۙ(۲) فَالْمُغِیْرٰتِ صُبْحًاۙ(۳) فَاَثَرْنَ بِهٖ نَقْعًاۙ(۴) فَوَسَطْنَ بِهٖ جَمْعًاۙ(۵) اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌۚ(۶) وَ اِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِیْدٌۚ(۷) وَ اِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَیْرِ لَشَدِیْدٌؕ(۸)

(پ30، سورۂ العٰدیٰت: 1 تا 8)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: قسم پۀ هُغه آسونو کوم چې پۀ لنډه لنډه ساه اخستو سره منډې وهي- بیا د سُم پۀ [ټوکر] وهلو سره د ګټو نه د سپرغو راویستونکو- بیا د سحر پۀ وخت کښې د تباه کوونکو- بیا پۀ هُغه ساعت ګرد الوځوي- بیا پۀ هُم هُغه ساعت د دُښمن پۀ لښکر ورننوځي- بے شکه اِنسان ضرور د خپل رب لوئي نا شُکره دے- او بے شکه هغه پۀ دې خبره ضرور پخپله ګواه دے- او بے شکه هغه د مال پۀ محبت کښې ضرور ډیر سخت دے-

## پۀ خپله نا شُکره کیدو باندې پخپله ګواه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** **اللّٰه** پاک چې چرته د اِنسان نا شُکره کیدل بیان کړي دي هلته یې دا هم بیان کړي دي چې اِنسان پخپله نا شُکره کیدو باندې پخپله ګواه دے- داسې چې اِنسان د

خپلو کارونو او کردار په ذريعه په خپله نا شُکره کيدو باندې ښکاره ګواه دے۔ تاسو وکتل چې مونږ په خُله باندې خو وايو چې د اللہ پاک شُکر دے، خو د پريشانو په وجه په زړه کښې پالله شوے بړاس هم اوباسو، هم داسې زمونږ شُکر دے۔ که چرې مونږ شُکر ګزار اِنسانان وے نو مونږ به د مال حاصلولو د پاره دومره منډې ترړې او سر وهلې بر وهلې نهٔ ګرځيدے څومره چې مونږ ګرځو۔ مونږ په صحيح معنو کښې نهٔ د اللہ پاک شُکر ادا کوو او نهٔ صبر کوو۔

## د مال په محبت کښې سخت

آه! اِنسان د ناشکره کيدو سره سره د مال په محبت کښې هم ډير سخت دے، نو اللہ پاک اِرشاد فرمائي: ﴿وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ﴾ (پ30، سورۂ العٰديٰت:8) " [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه هغه د مال په محبت کښې ضرور ډير سخت دے۔"

د دې آيت مبارک په تفسير کښې مفسرينو بيان کړي دي چې اِنسان د عبادت په معامله کښې کمزورے دے خو د مال په محبت کښې مضبوط دے۔ (تفسير کبير، پ30، العٰديٰت، تحت الآية:8، 262/11)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا حقيقت دے چې اِنسان د نيکو په معامله کښې ناراسته او د دولت په معامله کښې ګړندے دے۔ په دې باندې ځان داسې پوهه کړئ چې که چا ته ووئيلے شي چې يو ځل د دُرُودِ پاک په وئيلو سره لس رحمتونه نازليږي، لس ګناهونه معاف کيږي، لس درجې اوچتيږي او د لسو غلامانو د ازادولو ثواب ميلاوئيږي لهذا زر [1000] کرته دُرُودِ پاک ولولئ ډير فضيلت به حاصل کړئ، کيدے شي چې هغه يے وه نهٔ لولي۔ که دا خبره په اخبار کښې چاپ کړے شي چې څوک د مياشتې د وړومبۍ جُمعې په شپه د کور په يو ګوټ کښې په اوداسهٔ کښې کښيني او سر ټيټ کړي او زر [1000] کرته دُرُود شريف ولولي نو د راتلونکي پرائز بانډ په قرعه اندازۍ [خسنې] کښې به د هغهٔ پينځه لاکهه روپۍ اِنعام راوځي نو بيا به په ناسته ناسته که د چا د ملا تير ماتيږي يا که څوک د شوګر، يا د زړهٔ يا د ساه لنډې مريض ولې نهٔ وي خو لازمي به يے

لولي كه هغه پهٔ ايمبولينس كښې اچولے كيږي او هسپتال ته ولې نهٔ وړلے كيږي ځكه چې معامله د پيسو ده۔

دغه شان ډېر خلق د خپلې نوكرۍ د كړيدو زياتولو د پاره تعويذونه كوي او اوردې اوردې وظيفې كوي خو صرف د ثواب ګټلو پهٔ نيت د زر [1000] كرته دُرُودِ پاک لوستلو نه ډډه كوي۔

ياد ساتئ چې د ځينو خلقو د مرګ وجه د هغوئي مال وي۔ روزانه پهٔ اخبار كښې داسې قِسمه خبرونه راځي چې " پرائز باندو خرخوونكي ډاكوانو پهٔ ډزو ووژلو او پرائز باندز يې ترې وتښتول، د فلانكي بينک عمله ډاكوانو پهٔ ډزو وويشتله او پيسې يې لوټ كړې وغيره وغيره " خو غريب اِنسان د ډاكوانو د ګولو ډېر كم ښكار كيږي۔

## د مال حاصلولو د پاره دِين پهٔ داؤ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! ښه پهٔ سَړو دماغو سوچ اوكړئ چې د كوم مال د حاصلولو د پاره چې انسان خپل دِين هم پهٔ داؤ لګوي، دروغ وائي، رشوت اخلي د دې پورې چې د سود خيال هم نهٔ ساتي، افسوس چې يوه ورځ به دا مال پرېږدي او د دُنيا نه به رخصتيږي۔ تاسو به خومره ژوندي يئ، 70 كاله، 80، 90، 100 كاله يا زيات نهٔ زيات د 125 كالو پورې به ژوندي يئ، بيا به د عمر پهٔ اخرۍ حصه كښې رانده، كاڼهٔ او كمزوري شئ، پهٔ بستره باندې به پراتهٔ يئ۔ يو څو ورځې وړاندې پهٔ اخبار كښې راغلي وو چې د يو سل دوه ديرش (132) كالو بوډا يا بوډۍ وفات شوه، كيدے شي چې د ټولو نه زيات عمر هم د دوئي وو۔ د بخښنې سره دومره به تاسو ژوندي نهٔ يئ۔ 132 كاله ژوندي اوسيدونكي به اصلي خوراک كړے وي، تاسو خو د اوس نه پهٔ ځوانۍ كښې چشمې اچولې دي۔

نن مونږه ډيره ترقي كړې ده، د سكرين كتو پهٔ وجه زمونږ پهٔ نظر باندې ډېر زيات اثر پريوځي۔ دغه شان چې كله د ګاډي هارن وهلے كيږي نو د هغې اواز غوږونو ته راځي د كوم پهٔ وجه چې د اوريدو طاقت پهٔ ورو ورو كمزورے كيږي ځكه چې د غوږونو د پاره د اواز اوريدو يو حد دے

د هغې نه تيز اواز چې کله د غوږونو په پرده باندې لګي نو دا خرابيږي- دغه شان په هر کور کښې سندرې غږيږي او د دې اوريدل هم ګناه ده او د ګناه په صحت باندې هم اثر پريوځي- د بد نظرئ او په پټه د کتو سره نظر کمزورے کيږي او سندرې سازونه اوريدل د اوريدو په طاقت باندې اثر غورځوي- (حلية الاولياء، 385/7ماخوذاً)

ياد ساتئ چې چرته په دُنيا کښې د بد نظرئ سره نظر کمزورے کيږي هلته به د مرګ نه پس د دې جرم په وجه په سترګو کښې ميخونه هم ټک وهلے کيږي- (معجم کبير، 156/8، حديث: 7666 ملتقطاً) په يو روايت کښې دا هم دي چې کوم ګس خپلې سترګې په حرامو باندې ډکوي الله پاک به د قيامت په ورځ د هغهٔ سترګې د وور نه ډکې کړي- (مکاشفة القلوب، ص10) دغه شان کوم خلق چې سندرې او سازونه اوري د هغوئي په غوږونو کښې به ميخونه ټک وهلے کيږي- (معجم کبير، 156/8، حديث: 7666 ملتقطاً) لږ غور اوکړئ چې نن که چرې په غوږ کښې خسنړے هم لاړ شي نو نهٔ برداشت کيږي، د قيامت په ورځ که چرې په غوږونو کښې ميخونه ټک وهلے شي نو څنګه به يې برداشت کوو؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو د سورهٔ عٰدیٰت د يو څو آيتونو مبارکو په باره کښې څهٔ تفصيل واوريدو، نور آيتونه مبارک واورئ، الله پاک اِرشاد فرمائي:

اَفَلَا يَعْلَمُ اِذَا بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُوْرِ ۙ﴿۹﴾ وَ حُصِّلَ مَا فِي الصُّدُوْرِ ۙ﴿۱۰﴾ اِنَّ رَبَّهُمْ بِهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّخَبِيْرٌ ﴿۱۱﴾ (پ30، سورهٔ العٰدیٰت: 9-11)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو آيا هغهٔ ته نهٔ دي معلوم چې کله به هغوئي راپاڅولے کيږي کوم چې په قبرونو کښې دي؟- او څهٔ چې په سينو کښې دي هغه به برسيره کړے شي- بے شکه د هغوئي رب په هغه ورځ د هغوئي يقيناً خبر لرونکے دے-

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د خپل روزانه په اعمالو کښې د بهترئ راوستو د پاره د خپل ژوند حساب اوکړئ مثلاً يقيناً چې مونږ به په دُنيا کښې زيات نهٔ زيات 60 کاله تيروو- بيا دې ته

وګورئ چې عام طور د ارام وخت اوسطاً 8 ګينټې دے، که روزانه د ورځې د 8 ګينټو د اودهٔ کيدو حساب اوکړے شي نو پهٔ 60 کالو کښې خو 20 کاله پهٔ خوب کښې تير شول او باقي 40 کاله د نورو کارونو د پاره پاتې شول- بيا غور اوکړئ چې پهٔ دې 40 کالو کښې به مونږ څهٔ څهٔ کوو؟ بيا پهٔ دې باره کښې هم سوچ اوکړئ چې مونږ به پهٔ قبر کښې څومره موده اوسيږو؟ د هغې هم حساب اوکړئ- دغه شان د هٔغه خلقو پهٔ باره کښې سوچ اوکړئ کوم چې د زرګونو کلونو راسې پهٔ قبرونو کښې دي او پهٔ هغوئي کښې څوک هم دُنيا ته واپس رانغلو- بيا خپل دا ذِهن جوړ کړئ چې يوه ورځ به مونږ له هم مرګ راځي او مونږ به هم د څومره ډيرې مودې پورې پهٔ قبر کښې اوسيږو هيڅ پته نهٔ لګي- مونږ ته به هم هٔغه کفن اچولے کيږي کوم چې پهٔ فټ پاټ باندې پروت لاوارثه مړي ته اچولے کيږي- کوم مال چې مونږ وګټو او د کوم د حاصلولو د پاره چې مونږ منډې ترړې ووهلې هغه به زمونږ اولاد ته پاتې شي او زمونږ به هيڅ پکار رانشي-

## د اِنسان درې مالونه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! زمونږ مال هم هٔغه دے کوم چې مونږ وخوړو، واغوستو يا مو د **الله** پاک پهٔ لاره کښې ولګولو لکه څنګه چې پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنسان وائي زما مال، زما مال، د دهٔ خو درې مالونه دي، وړومبے مال هغهٔ وخوړو او هضم يې کړو، دويم مال هغهٔ واغوستو او زوړ يې کړو، دريم مال يې د الله پهٔ لار کښې ورکړو او وړاندې يې ولېږلو- (مسلم، ص1210، حديث:7422) دا درې قِسمه مالونه د اِنسان خپل دي باقي پاتې مال د هغهٔ د وارثانو دے کوم چې به د هغهٔ پهٔ مال باندې عياشي کوي-

اے کاش چې مونږ خپل اولاد ته قرآنِ پاک وښايو او د دِين مبلغ او نـمونځ ګزاره يې جوړ کړو او د دې دُنيا نه لاړ شو د پاره د دې چې زمونږ اولاد زمونږ د پاره دُعا کوي او د ايصالِ ثواب بندوبست کوي- ياد ساتئ! څوک چې نيک اولاد پريږدي او د دُنيا نه رخصتيږي د هغهٔ اولاد د

هغهٔ د پاره د ثوابِ جاريه سبب جوړيږي خو نن سبا نيک اولاد څوک پريږدي ؟ او د خپل اولاد د نيک جوړولو د پاره کوشش څوک کوي؟

نن د اولاد کيدو د پاره دُعا خو ټول خلق کوي او د هغې د پاره تعويذونه هم اخلي خو د نيک اولاد دُعا څوک هم نهٔ کوي- لکه څنګه چې خلق صرف د بے روزګارئ د ختميدو او د روزګار ميلاؤيدو دُعا کوي خو د حلال رزق دُعا ځيني ځينې خلق کوي- شيطان مو ژبې ګنډلي دي ، دماغو ته تالې لګيدلې دي، دا د چا سوچ نشته چې حلال رزق وغواړي- ياد ساتئ چې کله هم رزق غواړئ نو حلال رزق غواړئ او کله چې هم اولاد غواړئ نو نيک اولاد غواړئ- د بده قسمته نن سبا د اولاد د نيک کيدو فِکر د ډيرو کمو خلقو سره وي، عام طور د مور او پلار هم دا سوچ وي چې د دُنيا مال او دولت ګټي او راکوي يـې او د جديد زمانې پهٔ حساب سره چليږي-

که اولاد بخپله د نيک جوړيدو کوشش کوي نو (ګويا) قيامت راځي، د مور او پلار سره ويره وي چې چرته مولانا ترې جوړ نهٔ شي او بيا زمونږ نه داسې قِسمه غوښتنې شروع نهٔ کړي چې پينځه واړه نـمونځونه کوئ او د سحر د نـمونځ ادا کولو د پاره راپاڅئ وغيره وغيره-

مونږ وايو چې خپل بچے د دعوتِ اِسلامي اِجتماع ته راوليږئ مونږ به دا نيک جوړ کړو، خو خلق وائي چې نا جناب! مونږ د خپل ځوي نه مولانا نهٔ جوړوو- د هغوئي نه چې پوښتنه اوکړې چې تاسو کلمه کومه وايئ نو وائي به چې: لاإِلٰه الاالله محمد رسول الله، هغوئي ته دې ووئيلے شي چې تاسو او مونږ چې د چا کلمه وايو مونږ دعوتِ اِسلامي والا به ستاسو اولاد ته هم د هغهٔ سُنَّت ښايو- خو خلقو ته معلومه ده چې بيا به دوئي زمونږ اولاد ته وائي چې پينځه وخته نـمونځونه کوئ، د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅئ- چې زمونږ بچے د سحر نه د شپې پورې پهٔ کار کښې وي بيا چې سحر وختي پاڅي نو خوب به يـې نهٔ پوره کيږي، بيمار به شي وغيره وغيره- نا! نا! مونږ خو خپل بچے نهٔ درکوو او مونږ به دے پهٔ سحر کښې راپاڅيدو ته نهٔ پريږدو- زمونږ پهٔ معاشره کښې ځيني

داسې خلق هم موجود دي کوم چې خپل اولاد په دِين باندې د عمل کولو نه منع کوي او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلي سُنَّت ږيرې مبارکې پرېښودو ته يې نهٔ پرېږدي او په ږيره پرېښودو ورته قسما قِسم تکليفونه رسوي- افسوس چې نن په سُنَّت باندې تلونکے مظلومه جوړ شوے دے!

اسلام تیرے چاہنے والے نہ رہے
جن کا تو چاند تھا افسوس وہ ہالے نہ رہے

د قيامت په ورځ باندې به **الله** پاک حکم اوکړي چې جنتيان او دوزخيان دې بيل بيل کړے شي نو عرض به اوکړے شي چې يا الله څومره دې د څومره نه بيل کړے شي؟ **الله** پاک به فرمائي: د زرو [1000] نه 999 دوزخيان اوباسئ- (ترمذی، 5/113،114، حديث:3179 ملخصاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** نن مسلمانانو د دِين نه څومره مخ اړولے دے، څومره د دِين نه لرې تښتي، اِنسان نـمونځ نهٔ کوي، ږيره نهٔ پرېږدي، دروغ وائي، رشوت اخلي، هر څهٔ کوي بيا هم په خوش فهمئ کښې اخته دے او ځان ښه ګڼي- افسوس چې نن سبا مور او پلار خپل اولاد په فلمونو، ډرامو او نورو ګناهونو کښې اخته ويني خو هغوئي منع کوي نهٔ، داسې خلقو ته ويريدل پکار دي چې خپل اولاد د ګناه نه د نهٔ منع کولو په وجه که چرې **الله** پاک ناراضه شو نو د هغهٔ ګرفت ډېر سخت دي، په دې باره کښې يوه عبرتناکه واقعه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم:

## ځوي په نرمئ سره په پوهه کولو باندې نيوکه

د بني اِسرائيلو يو عالِم صاحب وعظ فرمائيلو، د هغوئي ځوي هم په هٔغه محفل کښې موجود وو، هغهٔ يوې جينئ ته وکتل نو هٔغه عالِم ووئيل: " اے ځويه صبر کوه-" په دې وئيلو هٔغه عالِم ناڅاپه د منبر نه راپرېوتو او د هغهٔ هډوکي په بعضې ځايونو کښې مات شول او غيبي اواز راغلو

چې د خپل ځوي پهٔ ګناه باندې آيا دومره خبردارے کافي وو؟ تا هغه پهٔ سختۍ سره ولې منع نهٔ کړو؟ ياد ساته! ستا پهٔ نسل کښې به د قيامته پورې ځوک صِدّيق نهٔ پيدا کيږي- (حلية الاولياء، 422/2، حديث: 2823 ملتقطاً)(احياء العلوم، 383/2) افسوس چې نن سبا اولاد د ځان سره کښينوي او ګناهونه کوي، پلار خپل ځلمے اولاد د ځان سره کښينوي او فلم پرې ګوري-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! لږ غور اوکړئ چې هُغه هلک کوم چې صرف يوې جينۍ ته وکتل، اګر چې پلار هغه منع هم کړو خو لکه څنګه چې منع کول پکار وو هُغسې يې منع نهٔ کړو نو پهٔ هغهٔ باندې دا عذاب نازل شو چې د قيامته پورې به د هغهٔ پهٔ نسل کښې ځوک صِدّيق نهٔ پيدا کيږي- لږ سوچ اوکړئ چې د هُغه پلار حشر به څهٔ وي کوم چې پهٔ خپلو بچو باندې فلمونه او ډرامې ګوري؟ **الله** پاک دې مونږ د خپل قَهر او د غضب نه بچ کړي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس هم وخت شته ، اوس لا مرګ نهٔ دے راغلے، د ګناهونو نه رښتونې توبه کړئ او پهٔ سوچ سوچ کښې د خپل اخرت پهٔ باره کښې داسې غور اوکړئ چې مثلاً زما عمر 36، 37 کاله شوے دے، يعنې پهٔ دريو کښې يوه حصه ژوند تير شوے دے، زما پهٔ سر باندې مرګ ولاړ دے، ډير زر به ما ته هم کفن واغوستے شي، پهٔ اوګو باندې به اوچت کړے شم او هديرې ته به مې وړي ، پهٔ تياره قبر کښې به مې ښخوي او معلومه نهٔ ده چې بيا به مې ځوک د قبر ليدو د پاره هم راځي او که نهٔ؟ که پهٔ ژوندانهٔ څهٔ تکليف راورسيږي نو ډير خلق د مخ مروت د پاره راجمع کيږي- دا هم ممکنه ده چې پهٔ جنازه کښې به هم شرکت اوکړي خو لږه موده پس به مې ټول هيروي-

عمر بھر کون کسے یاد کرتا ہے
وقت کے ساتھ خیالات بدل جاتے ہیں


آه! د دې نه پس به په سوونو یا زرګونو کاله اوسیدل وي او د قیامت یوه ورځ به 50 زره کاله وي- (تفسیر در منثور، پ29، المعارج، تحت الآیة:4، 279/8) یاد ساتئ چې د قبر تیاري هُم په دې دُنیا کښې لرې کول دي، لهذا د قرآنِ پاک دا آیت د لارې بَل مشال جوړ کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! دُنیا او اخرت دواړه به مو ښه شي، د **اللّٰه** پاک اِرشاد مبارک دے: ﴿اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ﴾ (پ26، الحجرات:13)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: "بے شکه د الله په نزد په تاسو کښې زیات عزت والا هغه دے څوک چې په تاسو کښې زیات پرهیزګار دے-" په دې کښې څوک د کومې ژبې او نسل والا دے د دې پکښې هیڅ کار نشته، څوک چې پرهیزګاره دے هم هغه د **اللّٰه** پاک په نزد ښه او عزت مند دے-

**اے اللّٰه پاکه! په مونږ باندې کرم اوکړې چې مونږ د ګناهونو د عادتونو نه نجات حاصل کړو او مونږ ستا شُکر ګزاره بنده ګان جوړ شو- اٰمِیْنْ بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم**

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د وارواني هفتې رساله




فيضانِ مدينه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ

+92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net